(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

# وصلى اللّٰه تعالىٰ على النبى الامّى

## تمهيد

په نامو کښي چي عظيمه ښه نامه ده
ابتدا مي دي کتاب کښي ورسره ده

ذَ رحمت ذَ برکت په ژوند سبب دے
هغه نوم حُسن ښُکلا ذَ هر مکتب دے

ابتدا مي ذَ اللّٰه په نوم کتاب کښي
ذَ برکت ذَ پاره ليکم په دي باب کښي

ورپسي په مصطفىٰ ﷺ ليکم سلام
ذَ رحمت سيوري په مونږه دے تمام

بيا درود ورسره ليکم خامخا
نوم چي راشي هر کله ذَ مصطفىٰ ﷺ

تذکره ورپسي کوم ذَ صحابهؓ
هر عمل زهٔ يادوُم ذَ صحابهؓ

تابعينؒ به رانه هيڅ کله هير نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورســــره روا هـــرخـــوا تـــــه قـــربـــانـــی ده
شـــریـعــت کښــې ګــرانــی نیشتــه ، اســانــی ده

...................................

## غوړ / غوړونه

بــې لـــه غـــوړه یــا غـــوړونــو چــې پیــدا شــی
قـــربـــانـــی ورســـره کــلـــه بـــه روا شـــی
هـــمیشـــــه دا نـــاروا دی قـــربـــانـــې کښـــې
حـــلالــول دَ غـــټ اختـــرپـــه خوشـحـالـې کښـې
چـې غـــوړونـــو کښــې ســوري دریـمـه حـصـه وی
څـــنګ بـــه ستـــا دَ حــلالــولــو فیــصـلـــه وی ؟
چــې حـصــــه دریـمــه کـټ شـوې دَ هــر غـوړ وی
قـــربـــانـــی چــې کــړی ورســـره هـغـــه ټـک وی
صـــورتـــونـــه قـــربـــانـــې کښــې دا مـمنـوع دی
غـــټ عیبـــونـــه قـــربـــانـې کښـې دا ممنـوع دی
دَ څــــــاوری کـــــــۀ وی واړه واړه غـــــوړونـــــه
قـــربـــانـــې کښـــې دَ څـــاروو نـــه دی عیبـــونـــه
قـــربـــانـــی ورســـره هـــرخـــواتـــــه روا ده
دَ اســـلام دَ شــــریـــعـــت فیـــصـلـــــه دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بچو رازړو چې نه لري طاقت
مکروه ئې دی مکروه په دې اُمت
ورله داغ چې ورکړے شوي وی دُنیا کښې
قربانۍ ئې مکروه دلته ده هرخوا کښې
چې غلانځه کښې ئې پې نه پیدا کیږی
بې له عیبه کله ملاویږی
قربانۍ ئې ده مکروه هریو بشرله
دا پیغام حق مسئله یوسه هردرله
څاروي هغه چې بچې ورسره وی
چیلوکې، کټې یا سخې ورسره وی
قربانۍ ددې څاروی هرخوا مکروه ده
قربانۍ ددې څاروی صفا مکروه ده
که څاروي دَ قربانۍ کړه، چیلۍ وی
ډیره لنډه ورسره وروستو لکۍ وی
دا حالت دکراهت دے قربانۍ کښې
قربانول که دغه غواړے خوشحالۍ کښې
چې ډیر کونړ نه وی څاروي قربانۍ کیږی
قربانۍ په دغې عیب مکروه کیږی

